قاصد
QASED
Strategic Research Center

# راصد

## ٤٤مه ګڼه

(۶–۱۲ مارچ ۲۰۲۰م)

(۱۶–۲۲ حوت ۱۳۹۸ هـ ش)

# د افغان جګړې د مرګ‌ژوبلې اوونيز راپور



راصد اوونيز راپور په افغانستان کې د جګړو او امنيتي پېښو له کبله ښکېلو لورو او ملکي خلکو ته اوښتې مرګ‌ژوبله په دقيق ډول څاري. په دغو راپورونو کې د جګړې له کبله د اوښتې مرګ‌ژوبلې شمېرې د افغان حکومت د سرچينو، د طالبانو د سرچينو، په سيمه کې عيني شاهدانو او نورو بېلابېلو ادارو او باوري سرچينو د معلوماتو له مخې راټولېږي. د دغو راپورونو اساسي موخه د روانې جګړې درنو زيانونو ته د ټولنې د نخبه پاړکي، واکمنو چارواکو او مسؤولو لورو او همدا راز نړيوالو جهتونو پام راړول دي.


www.qased.org

info@qased.org

077 281 58 58

## سریزه

دغه راپور د ۲۰۲۰م کال د مارچ له ٦مې تر ۱۲مې (د ۱۳۹۸ لمریز کال د کب له ۱٦مې تر ۲۲مې) نېټې پورې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د جګړې له کبله د اوښتې مرګژوبلې شمېرې رانغاړي. دا اوونۍ د هېواد په کچه ټول ۱۳۵ تنه وژل شوي او ۱۲۹ نور هم ټپيان شوي دي.

د راپور د شمېرو له مخې، دا اوونۍ په هېواد کې د جګړې له کبله د اوښتې مرګژوبلې کچه د تېرې دوو اوونيو په پرتله ټيټه شوې ده. په تېرو دوو اوونيو کې په ټول هېواد کې ۴۷۲ تنه وژل شوي او ټپيان شوي وو، خو په دې اوونۍ کې ټول ۲٦۴ تنه وژل شوي او ټپيان شوي دي.

د حکومتي ځواکونو په اړخ کې د مرګژوبلې کچه د تېرو دوو اوونيو په پرتله ټيټه شوې ده. د افغان ځواکونو د مرګژوبلې تر ټولو خونړۍ پېښې په هلمند، بغلان او سرپل ولایتونو کې وشوې، چېرته چې د دولت د وسلهوالو مخالفینو په بریدونو کې لږ تر لږه ۱۱ امنيتي سرتېري ووژل شول او ۸ نور ټپيان شول.

د ملکي وګړو د مرګژوبلې کچه بيا د تېرو دوو اوونيو په پرتله د زياتوالي ښودنه کوي. د ملکي مرګژوبلې تر ټولو خونړۍ پېښې په کابل، هرات او لوګر ولایتونو کې وشوې چې لږ تر لږه ۳۷ تنه ملکي وګړي پکې ووژل شول او ۸۰ نور ټپيان شول.

په بل اړخ کې د دولت د وسلهوالو مخالفينو د مرګژوبلې کچه هم د تېرو دوو اوونيو په پرتله د کموالي ښودنه کوي.

په دغه راپور کې د افغان ځواکونو، د دولت د وسلهوالو مخالفينو او د ملکي خلکو د مرګژوبلې شمېرې او جزئيات لولئ. همدا راز د راپور په وروستۍ برخه کې د هېواد د ټوليز امنيتي وضعيت او مهمو امنيتي پېښو په اړه تحليل لولئ.

## افغان ځواکونو ته اوښتې مرګژوبله

**د مارچ ٦مه:**

د کندز ښار پر دوهمه امنيتي حوزه وسلهوالو طالبانو برید وکړ، چې له کبله يې ۲ ملي پولیس وژل شوي او ۴ نور ټپيان شوي دي.

په فارياب ولايت کې د امنيتي پېښو پر مهال يو پوليس وژل شوی دی.

د کندز ښار په دشت آبدان سیمه کې د وسلهوالو طالبانو په برید کې يو د ملي اردو سرتېری وژل شوی دی.

د بلخ ولایت د نهرشاهي ولسوالۍ په شهرک ترکمنیا سیمه کې د وسله‌والو طالبانو په برید کې یو پولیس وژل شوی او ٦ نور ټپیان شوي دي.

د بغلان ولایت د مرکز په پلخمري ښار کې وسله‌والو طالبانو د افغان ځواکونو پر پوسته برید وکړ، چې له کبله یې ۴ پولیس وژل شوي او یو بل ټپي شوی دی.

**د مارچ ۷مه:**

د سرپل ولایت په صیاد ولسوالۍ کې د دولت وسله‌والو مخالفینو پر یوه امنیتي پوسته برید وکړ، چې له کبله یې یو پولیس وژل شوی او ۵ نور ټپیان شوي دي.

د هرات ولایت د ګدزه ولسوالۍ په پل مالان سیمه کې د وسله‌والو طالبانو په برید کې یو پولیس وژل شوی دی.

د کندهار ولایت په دربیمه امنیتي حوزه کې په یوه موټر پورې د نښلول شوي ماین په چاودنه کې یو پولیس وژل شوی دی.

د هرات ولایت د پشتون زرغون ولسوالۍ په تاقچه سیمه کې د وسله‌والو طالبانو په برید کې ۳ پولیس وژل شوي او یو بل ټپي شوی دی.

**د مارچ ۸مه:**

د کابل ښار په کارته نو سیمه کې د ناپېژاندو وسله‌والو له لوري د لوګر ولایت د ولایتي شورا غړی او ۲ ساتونکي یې وژل شوي او یو تن ټپي شوی دی.

د هلمند ولایت په لښکرګاه ښار کې د افغان ځواکونو پر یوه پوسته چاودنه وشوه چې له کبله یې یو د ملي امنیت سرتېری وژل شوی او یو بل ټپي شوی دی.

د کابل ښار په سروبي ولسوالۍ کې د دولت د وسله‌والو مخالفینو په برید کې یو پولیس وژل شوی او یو بل ټپي شوی دی.

د هلمند ولایت د مرکز لښکرګاه ښار په دوهمه امنیتي حوزه کې د سړک ترغاړې ځای پر ځای شوي ماین په چاودنه کې یو د ملي امنیت سرتېری وژل شوی او یو بل ټپي شوی دی.

**د مارچ ۹مه:**

په نیمروز ولایت کې یو د ملي اردو سرتېری او په پروان ولایت کې یو پولیس د دولت د وسله‌والو مخالفینو په برید کې ووژل شول.

**د مارچ ۱۰مه:**

د کندهار ولایت په ۱۴مه امنیتي حوزه کې د وسله‌والو کسانو په برید کې یو د صفر څلور قطعې سرتېرى ووژل شو.

د بادغیس ولایت د مقر ولسوالۍ په سنجیدک سیمه کې وسله‌والو طالبانو په امنیتي پوسته برید وکړ چې له کبله یې یو دولت پلوى پولیس وژل شوى دى.

**د مارچ ۱۱مه:**

د هلمند ولایت په ګرمسیر ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو په برید کې ۵ د ملي اردو سرتېري ووژل شول.

د تخار ولایت د تالقانو ښار په چینزیی سیمه او د تخار-کندز په لویه لاره د سړک تر غاړې د ځاى پر ځاى شوي ماین په چاودنه کې د لویې لارې دقطعې یو سرتېرى وژل شوى او ۳ نور ټپیان شوي دي.

د بلخ ولایت په بلخ ولسوالۍ کې وسله‌والو طالبانو د افغان ځواکونو پر پوسته برید وکړ چې له کبله یې یو پولیس وژل شوى دى.

د جوزجان ولایت په آقچه ولسوالۍ کې وسله‌والو موټر سایکل سپرو ۲ پولیس په ډزو ووژل.

**د مارچ ۱۲مه:**

د بلخ ولایت په چهاربولک ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو په برید کې یو سیمه‌ییز پولیس وژل شوى او یو بل ټپي شوى دى.

**جدول-۱: افغان ځواکونو ته اوښتي مرګ‌ژوبله:**

| نوم | وژل شوي | ټپیان | ټول وژل شوي او ټپیان |
|---|---|---|---|
| ملي اردو | ۱۰ | ٦ | ۱٦ |
| پولیس | ۲۴ | ۲۰ | ۴۴ |
| مجموعه | **۳۴** | **۲٦** | **٦۰** |

## د دولت د وسله‌والو مخالفینو مرګ‌ژوبله

**د مارچ ٦مه:**

د کندز ښار په دوهمه امنیتي حوزه کې وسله‌والو طالبانو پر افغان ځواکونو برید وکړ، چې وروسته نښته رامنځته شوه او له کبله یې ۵ تنه وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۳ نور ټپیان شوي دي.

په فاریاب ولایت کې په بېلابېلو امنیتي پېښو کې ۵ تنه وسله‌والو طالبان وژل شوي او ۵ نور ټپیان شوي دي.

**د مارچ ٧مه:**

د کندهار ولایت د ډنډ ولسوالۍ په کرز سیمه او د ارغنداب ولسوالۍ اړوندو سیمو کې ٦ تنه وسله‌وال طالبان د خپل ځای پر ځای شوي ماین په چاودنه کې ووژل شول.

د بلخ ولایت د چمتال ولسوالۍ په افغان چهارسای البرز سیمه کې په هوایي برید کې ٨ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۵ نور ټپیان شوي دي.

**د مارچ ٨مه:**

د فراه ولایت په پشت‌رود ولسوالۍ کې په یوه هوایي برید کې ٦ تنه وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

**د مارچ ٩مه:**

د هلمند ولایت په مرکز، نهر سراج او سنګین ولسوالیو کې د افغان ځواکونو په برید کې ١٣ تنه وسله‌وال طالبان وژل شوي او ٦ نور ټپیان شوي دي.

**د مارچ ١٠مه:**

د پکتیکا ولایت په عمر سیمه کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې ٢ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د کندهار ولایت د ژړۍ ولسوالۍ په حوض مدد سیمه کې یو ځانمرګی بریدګر د پولیسو له‌خوا وپېژندل شو او په ډزو یې وواژه.

د پکتیکا ولایت په جاني خېلو ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو په کمین کې ٢ طالب وسله‌وال وژل شوي دي.

په ارزګان ولایت کې په دوو بېلابېلو امنیتي پېښو کې ٦ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

**د مارچ ۱۲مه:**

په نورستان ولایت کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې ۴ وسله‌وال وژل شوي دي.

**جدول-۲: د دولت وسله‌والو مخالفینو ته اوښتې مرګ‌ژوبله:**

| نوم | وژل شوي | ټپیان | ټول وژل شوي او ټپیان |
|---|---|---|---|
| طالبان | ۵۸ | ۱۹ | ۷۷ |
| داعش | - | - | - |
| مجموعه | **۵۸** | **۱۹** | **۷۷** |

## ملکي وګړو ته اوښتې مرګ‌ژوبله

**د مارچ ٦مه:**

د کابل ښار شپږمې امنیتي حوزې اړوند د عبدالعلي مزاري د تلین پر مراسمو وسله‌وال برید وشو، چې له کبله یې د ښځو او ماشومانو په ګډون ۲۷ تنه ملکي وګړي وژل شوي او ۵۵ نور ټپیان شوي دي.

د هرات ولایت د کشک رباط سنګي ولسوالۍ په خواجه نور سیمه کې د وسله‌والو بریدګرو په برید کې د ښځو او ماشومانو په ګډون ۷ تنه ملکي وګړي وژل شوي او ۱۷ نور ټپیان شوي دي.

په فاریاب ولایت کې په بېلابېلو امنیتي پېښو کې یوه ښځه وژل شوې ده.

د هرات ولایت د اوبه ولسوالۍ په دریابان سیمه کې وسله‌والو طالبانو یو ملکي وګړی ووژاه.

**د مارچ ۷مه:**

د غزني ولایت په کهنه قره‌باغ سیمه کې یوه ناپېژاند وسله‌وال یو مدني فعال په ډزو ووژه.

**د مارچ ۸مه:**

د کابل ښار په کارته نو سیمه کې د ناپېژاندو وسله‌والو له لوري د لوګر ولایت د ولایتي شورا غړی او ۲ ساتونکي یې وژل شوي او یو تن ټپي شوی دی.

د تخار ولایت په دشت قلعه ولسوالۍ کې وسله‌والو طالبان يو ملکي وګړی چې آشپز و لومړی وتښتاوه او وروسته يې وواژه.

**د مارچ ۹مه:**

د بغلان ولایت په مرکز پلخمري ښار کې په يوه کور د هاوان د مرمۍ د لګېدنې له کبله يو ملکي وګړی وژل شوی او ۴ نور ټپيان شوي دي.

**د مارچ ۱۰مه:**

د لوګر ولایت د ازرې ولسوالۍ په ښېخان سيمه کې د هاوان مرمۍ د چاودنې له کبله ۲ ماشومان وژل شوي او ۸ نور ټپيان شوي دي.

**جدول-۳: ملکي وګړو ته اوښتې مرګ‌ژوبله:**

| نوم | وژل شوي | ټپيان | ټول وژل شوي او ټپيان |
|---|---|---|---|
| ملکي وګړي | ۴۳ | ۸۴ | ۱۲۷ |
| مجموعه | **۴۳** | **۸۴** | **۱۲۷** |

## پایله او د اوونۍ تحليل

د راپور د شمېرو له مخې، د روان لمريز ۱۳۹۸ کال د کب له ۱۶مې تر ۲۲مې (د ۲۰۲۰م د مارچ له ٦مې د تر ۱۲مې) نېټې پورې د ټول هېواد په کچه ۲٦۴ تنو ته مرګ‌ژوبله اوښتې ده، چې ۱۳۵ پکې وژل شوي او ۱۲۹ نور هم ټپيان شوي دي.

په دې اوونۍ کې د جګړې د مرګ‌ژوبلې مجموعي کچه ټيټه شوې ده. د افغان ځواکونو مرګ‌ژوبله دا اوونۍ د تېرو دوو اوونيو په پرتله د کموالي ښودنه کوي. په تېرو دوو اوونيو کې ۱۲۵ تنه افغان امنيتي سرتېري وژل شوي وو؛ خو په دې اوونۍ کې دا کچه ټيټه شوې ده او ټول ۳۴ تنه افغان امنيتي سرتېري وژل شوي دي. د دولت د وسله‌والو مخالفينو د مرګ‌ژوبلې کچه هم د تېرو دوو اوونيو په پرتله لوړه ټيټه ده. په تېرو دوو اوونيو کې ۱۴۲ تنه د دولت وسله‌وال مخالفين وژل شوي وو؛ خو په دې اوونۍ کې دا شمېره ۵۸ تنه ده. د ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې کچه بيا د تېرو دوو اوونيو په پرتله

د زیاتوالي ښودنه کوي. په تېرو دوو اوونیو کې د ملکي وګړو د وژل شوو شمېر ۳۲ تنه و، خو په دې اوونۍ کې بیا دا شمېره ۴۳ تنو ته لوړه شوې ده.

د دغه راپور په موده کې بیا هم د تېر په څېر ملکي وګړي د جګړې قرباني وو. د ملکي مرګ ژوبلې تر ټولو خونړی برید هم په پلازمېنه کابل کې وشو. دا برید د کب په ۱٦مه په کابل ښار کې د عبدالعلي مزاري د تلین پر نمانځغونډه وشو، چې لږ تر لږه ۸۲ ملکي وګړو ته پکې مرګ‌ژوبله واوښته او مسؤولیت یې د داعش وسله‌والې ډلې په غاړه واخیست. دغه برید په حساس وخت کې وشو او له کبله یې له طالبانو سره د سولې د خبرو اترو په مهم پړاو کې د دغې ډلې د فعالیت اندېښنې یو ځل بیا تازه کړې.

په بل اړخ کې د امریکا او طالبانو ترمنځ د لاسلیک شوي توافق د پلي کېدو بهیر هم بریالی روان دی. د دغه توافق تر لاسلیک وروسته او په ځانګړې توګه د طالب بندیانو د خوشي کولو په تړاو د ولسمشر اشرف غني څرګندونو په دې تړاو اندېښنې راوټوکولې؛ خو تېره اوونۍ ولسمشر غني د ۵۰۰۰ طالب بندیانو د خوشي کولو فرمان لاسلیک کړ او به دې سره د امریکا-طالبانو تر توافق وروسته د بین الافغاني خبرو اترو د پیل په لور یو ګام واخیستل شو. که څه هم له طالبانو سره د سولې لپاره بین الافغاني خبرې اترې تر ټولو پېچلی او سخت پړاو دی؛ خو اوسني وضعیت ته په کتلو سره داسې هیلې شته دي چې امریکا او نړیواله ټوله به له دغې پروسې پوره ملاتړ وکړي او دا بهیر به له بن بست سره نه مخ کېږي. په دې برخه کې د یوه مهم پرمختګ په توګه، د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د امریکا او طالبانو هوکړه د رایو په اکثریت سره تایید کړه او په دې توګه یې د دغې هوکړې د پلي کېدو نړیوال ملاتړ پیاوړی کړ.

د دې ترڅنګ په هېواد کې متزلزل سیاسي وضعیت هم د سولې بهیر تر خپل سیوري لاندې راوستلی دی. د ولسمشر په توګه د اشرف غني او د نوموړي د ټاکنیز سیال ډاکتر عبدالله له لوري د لوړې مراسمو وښوده چې د ملي او نړیوالو هڅو له شتون سره سره ټاکنیز کړکېچ لا هم نه دی هوار شوی او دا هغه څه دي چې د سولې او په ځانګړې توګه بین الافغاني خبرو اترو بهیر یې له خنډ او ځنډ سره مخ کړی دی.

قاصد د ستراتېژیکو څېړنو مرکز په هېواد کې د جګړې د مرګ‌ژوبلې د څارونکي ارګان په توګه ټینګار کوي، چې په هېواد کې د رواني وینې تویېدنې او خونړي وضعیت پای یوازې او یوازې د بهرنیو ځواکونو د بشپړ وتلو او بین الافغاني تفاهم له لارې شونی دی. له همدې کبله پر افغان حکومت او ښکېلو نړیوالو لورو غږ کوو، چې د جګړې پر ډګر د تمرکز پر ځای د سولې هڅو ته پام واړوي.

**جدول-۴: د جګړې د ښکېلو لورو او ملکي خلکو مجموعي مرګ‌ژوبله:**

| نوم | وژل شـــوي | نوم | ټپيــــــان |
|---|---|---|---|
| افغان ځواکونه | ۳۴ | افغان ځواکونه | ۲٦ |
| د دولت وسله‌وال مخالفين | ۵۸ | د دولت وسله‌وال مخالفين | ۱۹ |
| ملکي وګړي | ۴۳ | ملکي وګړي | ۸۴ |
| بهرني ځواکونه | - | بهرني ځواکونه | - |
| **مجموعه** | **۱۳۵** | **مجموعه** | **۱۲۹** |
| **ټول وژل شوي او ټپيان ۲٦۴** | | | |

پای